**مطبوعاتی خبرتیا**

کابل – د۱۳۸۹ کال د تلی ۱۷
په خواښینی سره مو خبر تر لاسه کړی دی چی پرون ورځ (دتلی ۱۶) دکندز ولایت والی د ۱۹ نورو کسانو سره یو ځای د تخار ولایت په مرکز کی د جمعی د ورځی دلمانځه د ادا کولو په وخت په مسجد شریف کی دیوی چاودنی له امله خپل ژوند دلاسه ورکړ.
دافغانستان د بشرحقونوخپلواک کمیسیون د قربانیانو کورنیو ته خپله خواخوږی وړاندی کوی او دغه غیر انسانی او تاوتریخوالی څخه ډک عمل غندی .

داسلام پاک دین ، دهیواد د اساسی قانون او دبشری حقونو دنړیوالو میثاقونو دحکمونو سره سم ژوند دپاک خدای بخښنه او دانسان طبعی حق دی او هیڅوک باید دقانونی جواز پرته دهغه څخه بی برخه نشی،نو ځکه پر خپل سر باندی وژنی او هغه هم په یوه مقدسه ورځ او مقدس ځای کی داسلام دین او بشری حقونو دحکمونو څخه ښکاره سر غړونه ده .

دافغانستان دبشری حقونو خپلواک کمیسیون دداسی پیښو دتکرار څخه په اندیښنه کی دی او په دی باور دی چی ددغه شان پیښو تکراول به تاوتریخوالی او دقانون څخه دتیښتی دفرهنګ په هیواد کی ټینګ کړی او په دی شان به زموږدیر هیواد وال قربانی شی .

له دی کبله دافغانستان دبشرحقونو خپلواک کمیسیون دټولو اړونده او مسولو دولتی ځانګو څخه هیله لری چی د دغه پیښی دقیقه څیرنه باندی دهغوی مسول کسان وپیژنی او په راتلونکی کی د داسو پیښنو مخه ونیسی .

په درناوی

دافغانستان دبشردحقونو خپلواک کمیسیون